# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|

نشریه پیشرو شماره ۴۶
۱۳ فبروری ۲۰۱۳

# افغان میرمني د تاوتريخوالي په منګولو کې

په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی په داسې حال کې ورځ تر بلې په زياتيدو دی چې بی شميره کورنی او نړيوالې اداري او بنسټونه د دغه ناوړه سلوک د له منځه وړلو لپاره د تيرو درې لسيزو او په تيره بيا د تيرو دولسو کلونو را په دې خوا په لکونو او ان ميليونونو ډالرو فنډ اخلي. د بيلګې په توګه د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کميسيون د معلوماتو پر بنسټ، د تير کال پرتله د ښځو ضد تاوتريخوالې او ناوړې سلوک په سلو کې ۲۵ زيات شوی دی. په دغه راپور کې راغلي چې د ښځو پر وړاندې هره ورځ د جنايتونو درې قضيې چې دوه يې جنسي تيری دی، تر سره کيږي. هره ورځ د افغانستان له بيلابيلو سيمو څخه داسې زړه بوږنوونکي راپورونه رسنيو ته رسيږي چې د ښځو ضد جنايت په کې په بربنډه توګه ليدل کيږي. کله ښځه په ډيرې بی رحمۍ سره له ټوليز تيري سره مخامخ کيږي، کله ځان وژلو او ځان سوځولو ته اړ کيږي او کله يی هم غوږونه او ژبه پرې کيږي او کله هم سنګساريږي. د ښځو د زده کړې، له کور نه بهر کار کولو، روغتون ته تللو، په خپله خوښه واده کولو او داسې نورو آزاديو مخه نيول او محدودول د ښځو ضد د تاوتريخوالي تر ډيره حده منل شوې برخه جوړوي.



که څه هم د افغانستان د ښځو زړه بريښوونکی وضعيت يو له هغو لاملونو څخه و چې امريکا او نورو هيوادونو په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان تيری وکړ. د ښځو د حقونو په اړه خبرې کول او انديښنه څرګندول له ډيرې مودې راهيسې د «نړيوالې ټولنې» او په افغانستان کې دننه د زرګونو غيردولتي سازمانونو له خوا يو مود ګرځيدلی دی. خو دغه په اصطلاح د ښځو د حقونو ملاتړ کوونکي هيڅکله پر ښځو د شويو ظلمونو او تاوتريخوالو بنسټيز او اصلی لاملونه نه په ګوته کوي. د دوی په نظر پر ښځو له پيړيو پيړيو راهيسي شوي ظلمونه او تبعيض يوازې جنسيتي بڼه لري او په دې باور دي چې د ريفورم او اصلاحاتو له لارې به دغه تبعيض له منځه ولاړ شي او ورسره به د ښځو ستونزې هم حل شي. که څه هم د زده کړې ټيټه کچه، بيوزلي، کلتوري دود او باورونه، په ټولنه کې د نارينه واکمني او داسې نور د ښځو په وړاندې په نه باورونکي توګه د ناوړه او په ځينو برخو کې د غير انساني وضعيت لامل ګرځيدلی، خو پوښتنه دا ده چې په داسې يو هيواد کې چې له درې لسيزو را په دې خوا د جګړو د اور په لمبو کې سوځي او دولس کاله کيږي چې د امريکا په مشرۍ د ناټو د تيري له کبله يی ښځې او نارينه، زاړه او ځوانان او ماشومان هره ورځ له وژل کيدو او سپکاوۍ سره مخامخ دي، په داسې يو هيواد کې چې زياتره وګړي يی د بيوزلۍ د کرښې لاندې ژوند کوي، روزګار نه

لري، په داسي یو هیواد کي چي لاسپوڅی رژیم په کي واکمن دی او په هر ګوټ کي طالبان، جنګسالاران او نورې جنایتکاره ډلي په کي اندوخر کوي او په داسي هیواد کي چي وګړي یی ورځ تر بلي د بربادي خوا ته روان دي او په تیره بیا ښځي یی ځان وژني ته مجبورې شوې دي، پر ښځو ظلم او د ښځو ستونزې، یوازې جنسیتي بڼه نشي درلودای.
هغه کسان چي د ښځو په وړاندي تاوتریخوالي او ظلم ته یوازې جنسیتي بڼه ورکوي، که وغواړي یا نه، د مسئلي ملي او طبقاتي لاملونه له پامه غورځوي او په دې توګه نه غواړی چي په واکمن سیاسي او اقتصادي نظام کي بنسټیز بدلون راشي او په دې باور دي چي ښځي خپل حقوق به بورژوایي دموکراسی کي لاسته راوړلی شي.
د یوناما د رپوټ پر بنسټ له 1382 تر 1390 پوری د 133 ځان سوځوني، 333 ځان وژني، 515 قتلونو، 451 جنسي تیري، 438 له کور څخه د تیښتي، 40 د ښځو قاچاق، 24 اجباري ودونه او د وهلو او ټکولو 23000 قضیي ثبت شوي، چي دغه قضیي په 1391 کال کي څو واره زیاتي شوې دي. د روان کال په پیل کي له څلور زره څخه زیاتي د تاوتریخوالي پیښي ثبت شوي. تر ټولو تازه یي په دایکندي کي د پولیسو لخوا پر یوې نجلی تیری او په هرات کي د یوې بلي میرمني وژنه ده.
دا ښکاره خبره ده چي د ښځو د حقونو لپاره د کمپاین په لاره اچول، د ورکشاپونو او سیمینارونو، د قوانینو جوړول او یا بل هر ډول اصلاح او ریفورم که هر څومره ښه او پراخه هم وي، نشي کولای د ښځو په ټولنیز او اقتصادي حالت کي بنسټیز بدلون راولي. دغه ټولي هڅي د دې لپاره دي چي د ښځو له انرژي او پټ پوتانسیل څخه د خپلو موخو او ستراتیژیو لپاره ګټه واخلي. د افغانستان اوسنی حالت په ډاګه کوي چي که له یو پلوه د تیري اصلي او لومړنی قربانیاني زموږ د هیواد ښځي او ماشومان دي، له بل پلوه د ښځو هغه لویه برخه چي په زره بوږنوونکي اقتصادي حالاتو کي ژوند کوي، له هغي طبقي سره تړاو لري چي د ژوندي پاتي کیدو لپاره، خپل ځواک خرڅولو ته اړ شوي او له همدې کبله باید په افغانستان کي د ښځو په وړاندي تاوتریخوالی او پر هغوی شوی ظلم له درې اړخونو وڅیړل شي: ملي ستم، طبقاتي ستم او جنسیتي ستم. او که د دغو درې ستمونو په ضد مبارزه ونشي، ښځي به ونکړای شي، برابر حقوق او آزادي لاسته راوړي.